انجنیر عبدالصبور ساپی ۲۰۱۲/۰۸/۰۴

# ښاغلی کرزی که ربښتیاغواړي فساد لمنځه لاړشي!

د فرامینو ښکلل یا توشیح کول او بیاهغه د داسي چاروا کو په لاسو چي هغوی خپله په دولت او حکومت کي د فساد یوه لویه برخه جوړوي سپارل، د اسوال منځته راخي، ایا کېداشي چي یو فاسد انسان دي خپل ځان محکوم کړي و یا هغه کسان چي دوی ورسره تړاو لري اوهم د دوی په مرسته ئي یو جنایت سرته رسولی وي اوس ئي راکش کړي محکمي ته، د حیرانتیا خبره خو داده چي ډېرې دوسیې د یو شمېر معلوم لحال کسانو په هکله په ارګ او یا په څارنوالي کي موجود دي خو د هغو په هکله هیڅ خبره هم نکېږي او په فرمان وېستلو د خلک زړه ته تسل ورکوي، په فرمان کي سپارلشوې دندوته درې میاشیې، شپږ او نهه میاشیې وخت ټاکل شوی اوس که دا فرمان په دغه ټاکلی وخت کي عملی کیدای شي نو دا مسولینو بیا په دا لسو کالونو کي په څه بوخت وهٔ دابنیې چي دغه کسان دا فرمان هیڅکله عملی کولي نشي، ولې موږ باید په خپلو ضعفو نو پرده واچو اوس نور دا چل ول خپل ارزښت له لاسه ورکړی ده او نور خلک په دغسې اوتوبوتونه غولېږی.
زه دانه وایم چي دغه فرمان سرترپایه دنقص نه ډک ده اویاداچي بیخي بایدنه وای راوتلی دکارد ګړند یتوپ لپاره په اوسني شرایطوکي څه خبر ده ، خو که یولنډنظر دغه فرمان اوتېروفرمانوته واچول شي بیا په ډیر څرګند ډول معلومېږي چي په دا فرمان کي هغه ټکي راغلي چي په واقعیت کي دحکومت اودولت اساسی اوقانوني دنده جوړوي اوداټول په قانون کي شته چي بایددغو مسؤلینو لخوالا پخوا عملي شوي وای خونه دي عملي شوي، ددې پرځای چي ۲۵مخه فرمان ورکړوبکارداوه هغه کسان چي تراوسه ئې قانون ترپښولاندې کړی په سرګند ډول ولسمشر ته معلوم دي اوکه وایي چي نه داندي معلوم نوپوښتنه منځ ته راځي یو ولسمشرچې دخپلې اداري نه خبرنوي یاناروغ ده اویابی کفایته اود مدیریت توان نه لري بایدپخپله دې دندې ګوښه شي،د فسادنه دخلاصون لاره داده چي دفسادعوامل پیدا اودهغه مخه ونیسو،مخکې لدې نه چي په نوربرخووغږېږم دفسادعواملوته اشاره کوم.

### د فساد عوامل کوم دي:

زموږپه هیوادکې اوپه تېره په اوسنې شرایطوکې فساد دوعمده عوامل لري یوخارجې عوامل اوبل کورني عوامل ،خارجي عوامل په لاندې ډول دي۰

۱- په خپله خارجیان چې په هیوادکې شتون لري اوپه امنیتي برخه کې پراخ لاسرسی لري اوټولي اداري ئې ترخپل پوښښ لاندې راوستي دي آن داچې وړومامورینواوکسبه کارنوپورې ئې هم خپل اثرلاندې نیولي او ورته دندې سپارې، داکاردوی دخپلو ځانګړومقصدونولپارکوي اویو ځانګړی بحث غواړي۰

۲- خارجي (اِن. جي. او.) ګانې چې دوی هم ځانته مقصدونه لري لکه امنیتی ،اقتصادی ،نفوذي ،سیاسي اوسیمَیځ مسایل اودغوموسېسوکې یوزیادشمیراستخباراتي کسان په کاربخت دي۰

۳- دخارجیانو ملاتړدځینومشخص څېرواوډلوټپلونه۰

۴- نړیوال خپل ټولي مرستې دې پورې تړلي چې دولت کې فساد شتون لری نودوی وایي ځکه موږ خپلې مرستې دولت ته نسپارو اوپه خپله ئې مصرفوو، دغه عمل دنړیوالو(ان. جې. او.) ګانوهم په خپل ذات کې لوی فسادرامنځته کړی ده، له یوې خوا دغه غیردولتی خارجي موسېسې دیوشمېر جګړه مارانوسره اړیکي لري او یو راز پټو موخو لپاره هلې ځلې کوي چې دې دوی ګټې په سیمه کې خوندي کوي او نفوذېې زیاتوي ، دې کارلپاره همدغه یوشمیر جګړماران استعمالوی وهم په لوی مالي فساد نوکې لاس لري نوځکه یوشمېر مفسدین خپل ځان دې دوی سره خوندي وینې اوکله چې فسادئې بربنډ شي بیا دې دوی په مرسته له وطنه پښې سپکې کړي وبي غمه ګرځي، د ښاغلي کرزی په ویناو کې دولت سره دموازی دولتي ادارو جوړولوخبره په وار وار شوې ده اوښاغلي کرزي هم ترې سرټکولی

ده خومخ نیوی ندی کړی، دبله خوا ټول هغه کسان چي ډېرلوی جنایات او اختلاس ترسره کړی بیا بهرته تښتي نو هغه کسان چي بهرته لاس رسی لري زیاتره په فسادکې ککړدي دبېلږې په توګه دکابل بانک او آریانا افغان الوتني شرکت چي تراوسه ئې پیسې اصول شوي ندي اویوشمېر وزیران، ډېر مفسدین اوس په هیواد کې نشته دي، اوله بهرملکوله خوا هم په غېږ کې نیول شوی معلومه نده چي د افغانستان انترپول پولیس په څه کار بښت دي لاتراوسه دملی شوراله خواهم پوښتنه نده شوې ،اوهم ښاغلی کرزي په خپل بهرني سفروکې له هغه دولتونه چي دغه کسانې ساتلي دبېرته سپارلووړاندیځ ندی کړی ځکه کرزی صیب نه غواړي خپل ځانه څوک خپه کړي که سارق وي که کاذب، صادق وی که صائب،


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## د فساد کورني عوامل:

۱- فقر او د خلکو د ژوند پراخې اقتصادي او اجتماعی ستونځې او د دولت د مامورینو د معاشاتو کموالی د روغتیا او اجتماعی بیمونه شتون۰
۲- د امنیت دارګان ضعف اونه شتون په رسمي اداري دفاتروکې ترسو یومامورډې دنه وبېرېږي چې یوڅوک شته د دهٔ پراعمالوڅارکوي۰
۳- ناقصه کادري سیاست۰
۴- د جګړمارانو شتون په لوړو دولتي پوستونو کې دغو کسانو تر اوسه یوا ځې د خپلو ګټو په هکله فکر کړی نه د وطن او خلکو د ګټو لپاره او دهمدې جګړمارانو لخوا داسې کسان پکار ګمارل شوي چې نه تحصیل لري او نه د کار وړتیا فقد وخت غنیمت شماري د پیسو پیدا کولو لپاره او خپله ګټه په بې ثباتي کې ډېره ویني۰
۵- دکاردسرته رسولولپاره پلان نه لرل کله چې دیوکاردپاره پلان نوي نوکنترول به څنګه منځته راشي په خپله پلان دکاردچټکتیاعامل ګرځي اوسړی مجبوروي چې دخپل پلان دترسره کولولپاره هلې ځلې وکړي۰
۶- دهېواددګټوخلاف مصلحتي روغې جوړې دڅوکۍ اومقام تقسیمول دمصلحتونوپربنسټ.

## چټک اصلاحات رامنځته کول:

په خپله ولسمشرهم وایی چې (دې لسو کلو کې ما د مصلحت نه کار اخیستی خو اوس ئې نور د مصلحت کار نه اخلم) که دا خبره په غوڅه توګه په ریښتیا سره ولسمشر د زړه نه او صداقت نه کړې وي نو ولسمشر ته دا دنده سپاري؛ **هغه کسان چې تر اوسه ولسمشر د مصلحت په بنسټ په لوړ وند ګومارلي دي سمدستي دې له دندو لرې کړي ځکه همدا کسان دي چې فساد ئې منځ ته راوړی دغه کسان داسې فکر کوي چې همدا نن ورځ هر څه چې کوې کوه ئې نن ده ورځ ده سبا به نوي، نو پکار ده چې له ولسمشری مانۍ نه نیولې بیا وزراتونو کې همدا شان په ټولو ولایاتو کې له دندو ګوښه شي او که لازم وي نو بیا دې محکمې ته وپېژندل شي ترسو د خپل اعمالو جزاء وويني، او دا کار هله کېدونکې ده چې یو څو لوړ پوړې کسان له دندو ګوښه او زندان ته واچول شي نو دغسې یومېړني کارته به خلک وایي چې واقعاً ولسمشر د فساد د ورکولو اراده لري**، ټولې هغه دوسیې چې لوړ پوړو چارواکو پورې اړه لري په هکله ئې سمدستي اقدام وشي، د قام ژبې او مذهب په اساس دپه وزارتونو کې مقررۍ محدودې شي، کار د کار پوه ته وسپارل شي بیا دا فرمان په اتوماتیک ډول دې داسې کسانو لاس ته رسي چې په بشپړه توګه په عمل کې ئې کاولې شي پیاده کړي پدې ترتیب د یو ریښتیني اداري بنسټ اېښودل کېدای شي، صحیح خبر ده چې دا کار به یو څه اړودوړ رامنځته کړي خو که اراده ورته پاکه وي نو د خلکو غږ ملاتړ به ولري او ډېر ژر به د منځنه ولاړ شی او یا دا چې دا کار په سوپراونوکې تر سره شي چې د مفسدینو ناوړو اقدامات مخه هم ونیول شی او هم د ولس ملاتړ زیاد شي دا چې یو فاسد دې پرخپل فساد څېړنه او کتنه وکړي دا به یوه معجزه وي په خوا شینۍ سره چې خبرې شته خوعمل نشته او یو فرمان د بل فرمان په واسط د خلکو په سترګو خاورې موښي.

د بلې خوا دا فرمان هم نیمګړتیاوې لري چې ولسمشر په خپله د دې فرمان په واسط ټولو ته دنه رغونې او فساد اجازه ورکړې ده په تېره هغو کسانوته چې کاري صلاحیت او وړتیاوې نلري، فرمان کې راغلي دي:

«د دولت درې ګونی ارګان د اساسی قانون په چوکات کې د قواوو د تفکیک د اصل په رعایت سره د خپلو واکونو او دندو په اجرا اوعملی کولو مکلف دي، د باور اوهمکارۍ په فضاکې دې داسې فعالیت وکړي چې د هر مالي کال په پاي کې پرمختیائې مالی لږښتو نه د ورکول شوو پیسو له (۵۰٪) څخه کمه نه وي؛ اجراییه قوه د خپلو کړنو به هکله ولسمشر ته مسؤوله ده او رپوټ ورکونکې ده».

ولې سل په سلوکې نوي چې پنځوس په سلوکې، یوولسمشر د بېکاره اوفاسدکسانوته په خپل لاس قانوني داسې لاره دتېښتي جوړه کړي چې دوطن په سیاسی ،اقتصادی ، اوامنیتي برخه کې ضعف اونیمګړتیاوې منځ ته راوړي اودملک رغونه په ټپه دروي زمایه فکر جهان کې ساری لیدل شوې نه ده ، کله چې مالي لږښت یووزارت ونشي کوالي مصرفې کړي معلومه ده چې په دغه وزارت کې بې کفایته کسان په کارګمارلشوي دي چې دکارکولووس اوتوان نلري ښایي داچې داکسان ژرترژره له دندې لرې شي اوپرځای ئې داسی خلک وټاکل شي چې دکاروړتیاولري ، ښایی ځنې کسان داسې وواي چې دامنیتي ستونځوله عمله ولسمشرداخبره کړې ده چې مالي لږښتونه ټول نشي مصرفېدلی دا دُرسته خبرده چې امنیتي ستونځې شته خوداحالاتو پورې تعلق لري اوداسې امنیتي حالات هریوپه خپلو سترګو ویني ولې هیڅکله په قانون یافرمان کې نبایدداسې یوخبره راشي چې لاره بې کفایته کسانوته هواره کړي اوچارواکوته دکارنکولودتېښتي لارپیېرډي۰



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تراوسه دولسمشرله اړښه ډېرشمېر فرمانونه راوتلي دي خوکم يوئې بياکنترول شوی چې په عمل ترې كاراغستل شوی اوستونځې پرې هوارې شوې دي! كه ندي شوي بيا چيشته نه دی شوی! دبېلګې په توګه دولسمشرفرمان دكوچينانو په هكله ،اياكوچيانوسونځې لرې شوې؟ دولسمشر فرمان د وكيلانو دحفاظت په هكله څوكسه وكيلان دښاغلي رباني په شمول دفرمانه ورسته ووژل شول؟ دواړه فرمانونه په كنګل وليكل شول اوبيالمرته كېښودل شول همداسې نور، دولسي جرګې له خوادولسمشرد ۱۳۸۸ كال ددلوې د۲۸ نېټې فرمان چې دانتخاباتوكې دتعديل په هكله وپه اتفاق سره دولسې جرګې له خوا لغوكړی شوځكه دولسې جرګې دغړودكټې په كې نغښتې وې، دښاغلي كرزي دفرمان په اساس خاصه محكمه دټول ټاكنوپه هكله جوړه شوه بياولسمشردبل فرمان په اساس هغه پخوانی فرمان باطل كړاو د محكمې ارزښتي هم ترپښتني لاندې راوست اومصلحت ئې دقانون نه پورته وګاڼهٔ، نوځكه ملت داسې انديښنه لري چې داهم همغه شان فرمان دي فقد وخت تېرول دي اوبس اودفساددورككولوكم اراده لاتر اوسه منځ ته نده راغلې په ياد ولري سومياشې ورسته چې دفرمان دځينو بندونو نېټه پوره كېږي بيابه ټول وګوري چې نه چرګه شته اونه هګی، ټولوليكوالواوخبريالانوته ښايي چې په خپلوليكنو اورپوټونو دولت دې خبرې ته اړباسي ترسو اصلاحات دژوند په ټولواړخونوكې رامنځته شي اوداځوربدلی ملک دفساده خلاص شي۰ ومن الله توفيق

پای



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ